# ستاسو د ماشوم د ساتېري وخت ډېر مهم دی

## د ساتېري مرکزونو په هکله معلومات



Skolverket
Swedish National Agency for Education



PAULINE ST DENIS/FANCY

# د ساتېري مرکز ستاسو ماشوم د خدمت لپاره دی

تاسی والدین خپلو ماشومانو ته تر ټولو نه نژدی یاست. په همدی دلیل دا مهمه ده چې تاسی د ساتېري مرکز کارکوونکو او ستر ښوونکي سره اړیکې ونیسئ او ورته ووایی چې تاسی پهٔ مرکز کښې د ماشومانو فعالیت، د ګروپ غتوالی ، ترکیب او د خپل ماشوم سره رویی په هکله څه فکر کوئ. که چیری د ساتېري مرکز کارکوونکي او ستر ښوونکی پوهیږي چې تاسی څه فکر کوئ نو دوی کولای شي هغه څه ستاسو ماشوم ته ورکړي چې هغه اړه ورته لري.

د دی لپاره چې تاسو په کارونو کی برخه واخلئ او موثر وئ نو باید پوه شئ چې د ساتېري مرکز څرنګه فعالیت کوي.

# د ساتېري مرکز څۀ ډول سره اداره کېږي ؟

د ساتېري مرکزونه د سویدن د ښوونځیو د قانون په وسیله اداره کیږي . دغه قانون کښې لیکل شوي چې د ماشومانو ګروپ باید مناسب ترکیب اوساختمانونه یې مناسب تجهیزات ولري او د مرکز ځای د مقاصدو لپاره وړتیا ولري. یعنی د ماشومانو ګروپ او د ساتېري مرکز مخصوص فعالیت ته مناسب وي. او پروګرامونه باید د هر ماشوم د اړتیا په اساس وي. کارکوونکي باید داسی تجربی او یا تحصیل ولري چې ستاسو د ماشوم پاملرنه وشي او د ښې ښوونې فعالیت لپاره اړتیاوی پوره شي.

د ساتېري مرکزونه باید هغه د زدکړو پلان عملی کړي چې حکومت تصویب کړی دی. دا همدغه د زدکړو پلان دی چې د وړکتون او حتمی ښوونځی لپاره تصویب شوی دی. دغه پلان زمونږ د ټولنی بنسټیز ارزښتونه څرګندوي او د ساتېري مرکزونو او ښوونځیو اهداف او وظیفی څرګندوي. تاسو کولی شئ د زدکړو پلان ولولئ چې تاسی لکه والدین پوه شئ چې تاسو څخه به کومې هیلې او غوښتنې ولرلی شي.

د سویدن ښاروالۍ مکلفی دي چې ښوونځي ته د تلو وړ تر ۱۲ کلنی پورې ټولو ماشومانو ته د ماشومانو پاملرنه وړاندې کړي. ښوونځي ته تلونکو د ۱۰انه تر ۱۲ کلنی ماشومانو لپاره دا د ساتېري آزادي کړنې کېدلی شي چېرته چې دوی پۀ رسمي ډول نه راجستر کیږی . د ساتېري ازادي کړنې د هغو ماشومانو لپاره رضاکارانه متبادل دی ځوک چې هغه پاملرنې او څارنې ته اړتیا نۀ لري چې د ساتېري پۀ مرکزونو کښې ورکول کیږي.

ښوونځيز عمر ماشومانو لپاره د پاملرنې وړاندې کوونکی (ښاروالي يا د ساتېري د مرکز څېښتن، که چېرته د ساتېري مرکز د چا شخصي ملکيت وي) دا يقيني کولو په اړه مسئوليت لري چې د ساتېري مرکز کارکوونکي کړنې (فعاليتونه) پلان کوي، پېروي يې کوي او ارزوي يې. د خپل ماشوم د ساتېري مرکز  نه پوښتنه وکړئ چې څرنګه تاسی او ستاسو ماشوم کولی شئ په دغه ارزونې کښې ونډه ولرئ.





MASKOT/MARTIN BOTVIDSSON

# له مفهومه ډکه ساتېري چې د ماشوم د ترقی ملاتړه وي

د ښوونې د قانون په اساس د ساتېري مرکزونه باید ماشومانو ته یو له مفهومه ډکه ساتېري او کړنې وړاندې کړي چې د ماشوم هر ډول وده یقیني کړي. د دی مقصد لپاره باید چاپیریال خوندي، خوشحاله او تشویق کوونکی وي او لوبی، تنوع او جسمی فعالیتونه باید زیات ځای ونیسي. ټول فعالیتونه باید د ماشوم د عمر، تجربی، توان، اړتیاوو اوعلاقی په اساس جوړ شي. هم ځکه، د ساتېري پهٔ مرکزونو کښې به فعالیتونه د هلته داخل شویو ماشومانو د اړتیاوو سره سم توپیر ولري.

د ساتیري مرکز ستاسو د ماشوم په پرمختګ کی ډیر ستر رول لری ځکه چې ماشومان ټوله روځ په مختلفو اړیکو سره هلته زدکړی کوی. د کارکوونکو وظیفه دا ده چې پاملرنه او زدکړی سره یو ځای کړی. د مثال په توګه دوی کولای شی چې ستاسو ماشوم ته د نورو سره په معاشرت کی مرسته وکړی او ستاسو ماشوم مستقل اوخودمختار شی، او دا چې تنوع او مختلف نظرونو ته احترام ولری او پهٔ دې پوه شوي چې کله نا کله د خپلې خوښې پر ضد د نورو سره موافقه ولري.

# د ښوونځی تکمیل کوونکی

دښوونځي او د ساتېري د مرکز کارکوونکي زیاتره د یو بل سره نژدی همکاري کوي، او پدی ډول ستاسو ماشوم ګړده ورځ د خپلو هنرونو او پوهې د پرمختګ او تخصص لپاره امکانات لري. د ساتېري مرکز، لکه ښوونځی، د زده کړې لپاره یو ګروپوي فعالیت لري چې باید له خوشحالی ډک او تشویق کوونکی وي، او ستاسو د ماشوم د زدکړې علاقه څخه بشپړه ګټه ترلاسه کړي.

د ساتېري مرکز په دوه ډوله ښوونځی تکمیل کوي:

د وخت له نظره، دوی هغه موده ماشومانو ته ځای ورکوي چې دوی په ښوونځی کی نه وي یا ښوونځي نه په رخصتیو کی وي. ښوونځیز عمر کښې د ماشومانو پاملرنه باید داسی تنظیم کړای شي چې والدین وکولای شی د ماشومانو روزنې سره سره کار یا تحصیل هم وکړي.

د محتوا له نظره، چې ماشومانو ته هغه تجربی او پوهنی ورکړي چې ښوونځی یی نه ورکوي.


CORBIS

# د ماشومانو ونډه او تاثیر

ستاسو ماشوم حق لري چې د خپل ساتېري مرکز د فعالیت په هکله فکر وکړي او نظر وړاندې کړي. دا چې ماشوم په مختلفه توګه خپل نظر او فکر بیان کړي دا زده کولو کښې ورسره مرسته کوي چې څرنګه دموکراسی عملی کیږی. دا به ښه وي چې ماشومٍ ته امکان ورکړ شي چې د پلان جوړونې پر پروسه کښې برخه ولري او مثلاً، د غونډو او ارزونې په هکله خپل نظر څرګند کړي . له کارکوونکو سره په دی هکله خبری وکړئ او خپل ماشوم دی ته تشویق کړئ چې خپل نظر او فکر بیان کړي.


MATTON

# تاسی کولای شی تأثیر وکړی

د ساتېري مرکز کارکوونکو او والدين تر منځ همکاری ډېره مهمه ده چې دا ډول ماشوم د ساتېري پۀ مرکز کښې ځان خوندي او امن کښې محسوس کړي. د زدکړی ملي پلان کی ليکل شوی چې ښوونځی او د ساتېري مرکزونو کښې چې څوک هم کار کوي هغه بايد د والدين سره همکاری وکړي او دا ډول فعاليت ته ترقی ورکړې. تاسی کولای شئ چې مرکز ته د ماشوم د راوستلو يا هلته نه اخيستلو په وخت کی يا د والدينو د جلسو يا د شخصيي پر مختګ د خبرواترو په وخت کی د کارکوونکو سره خبری وکړئ.

که تاسی د خپل ماشوم د ساتېري مرکز د فعاليت د کيفيت په هکله کوم نظر لرئ، نو کولای شئ چې ښاروالۍ ته يا د مديرانو کمېټه ته مراجعه وکړئ.



ROY MCMAHON/CORBIS

که تاسی غواړی د ساتېري د مرکزونو د کیفیت په هکله نور معلومات په لاس راوړئ، نو کولای شئ د ښوونې ملي اژانس تصنیف "عمومي مشوری او تبصری: د ساتېري د مرکزونو کیفیت" ولولئ. دغه د ساتېري په ټولو مرکزونو کی شته. تاسی کولای شئ یوه شخصی نسخه له فریتز کندسرویس څخه فرمایش ورکړئ، یا د ښوونې ملي اژانس لهٔ انترنیتی سایت www.skolverket.se نه دوونلوود کړئ.

د مخ پاڼې باندې تصویر: کینت هیلمان/ایتسا
ګرافیک: اب تیپوفورم

Skolverket

www.skolverket.se